# ملیت او پښتنوالي

## پښتون بیله پښتون او پښتونوالي په بل ډول نه لوړیږي

که څه هم موږ په پلاوو پلاوو د پښتو او پښتنوالي له پلوه د خپلو وروڼو سره ګډ سوي، او بړغېدلي یو، سره د دغه هم څومره چي په دغه خوا کښي سړی بړغیږي، بیا هم دا خوږه او دګټو ډکه موضوع د شاعرانو په وینا لکه د شها زلفي اوږدیږي، او خوند ئې ډیریږي، که په رشتیا وګورو دا اوسنۍ نړۍ چي موږ ئې شلمه پېړۍ بولو، ښایي چي دا پېړۍ د ملیت او نیشنلزم پېړۍ وبلله سي، ولي چي په دغه وخت کښي د نړۍ ټوله اولسونه او وګړي مخ پر دغه خوا ځي، او هیڅ ملت او اولس نسته چي د خپل ملت او اولسوالی د ولیو په ټینګېدو دي نه وي بوخت.

رشتیا خو همدا ده، چي اوس د اولسو ژوندون او خپلواکي او ټوله د ژوندون ښېګړي د دوی پر اولسوالی یعنی ملیت ولاړي دي، هر څوك چي لږ څه د خپل ملیت ښېګړي بایلي، کورټ ژوندون نه سي کولای، او نه د ژوندن خوند اخیستلای سي.

د دې دپاره چي پښتانه په ښه ډول د اوسنیو اولسو ټینګار پر خپل ملیت باندي وګوري د مثال په ډول یو څو کرښي لاندي لیکو :

نن ورځ د نړۍ ویښ او غښتلي ملتونه ټوله پر خپل ملیت، پر خپل دود او خپله ژبه او عقیده او آدابو حتی پر خپلو خوړو او کالو او ټولو عاداتو دومره ټینګ دي چي هیڅکله ئې نه پرېږدي چي له لاسه ئې ووزي. که تاسي وګورئ هر انګرېز په انګرېزوالي او هر فرانسوی په فرانسوي والي دومره ټینګ دي، چي ښېله خپله قومیت او اولسوالی بل څه نه غواړي، او نه ئې مني، آئرلینډ یوه کوچنۍ جزیزه (ټاپو) ده، دا اوه سوه کاله کیږي چي انګرېزان ئې د ځانه سره ګډول غواړي مګر د هغوي قومي دودونه او ژبه او اخلاق بېل دي، او تر پایه د انګرېز په ملیت نه سوه ورګډ.

د فرانسې په شمال کښي بریټوني او په جنوب کښي باشکنس کوچني کوچني قومونه دي، او په پېړیو پېړیو د دوی تر تسلط لاندي دي مګر تر اوسه خپله ژبه، خپل دودونه او ځانوالی لري. د بلجیم په شمال کښي یو کوچنی قوم فلمنګ پروت دئ، که څه هم د بلجیم رسمي ژبه فرانسوي ده، مګر دا قوم ځانته ژبه لري، او ځان هیڅکله په نورو نه ګډوي.

د چیك خلك په پېړیو ـ پېړیو د جرمن تر لاس لاندي وه پوره پنځه سوه کاله ئې په مریي توب کښي خپل قومیت وساته، څو چي تر لوی جنګ وروسته خپلواك سوه، دغسي هم د پولینډ او روس، د هالینډ او مجر او جرمني نه ګډون او بېل والی ټوله دلالت پر دغه کوي چي هیڅ قوم خپل ملیت له لاسه نه ورکوي، او ملیت پر هر چا ډېر ګران دئ، او دا شلمه پېړۍ د ملیت او ناسیونالیزم پېړۍ ده، او هر ملت هغه ټوله شیان او لوازم ښه ساتي، چي ملیت پر هغه باندي ولاړ دئ، او د قومیت سټه پرې ټینګه ده.

پښتون اولس خو هم له هغه وخته چي دنیا ته راغلی دئ بیا تر اوسه پر خپل ملیت دومره ټینګ دئ چي د دنیا لویو لوي توریالیانو لا هم له خپله هوډه نه دئ اړولئ. د ایشیا مشهور بریالي (فاتحین) لکه اسکندر، ګوډ تېمور، افشار نادر او نور سره له هغومره غښتلوالي او بې پایه لښکرو نسوه بریالي چي دا کوچنی اما ښاغلی او زمری قوم دي له خپلي پښتنوالي څخه بیرته کي، پښتانه ته که هر راز لوړ خطاب وکړئ، او په هر ډول ښه نامه ئې وبولئ، په هیڅ یوه نه خوښیږي مګر د "پښتون" په نامه ... ! د پښتنو ملیت خو پښتو او پښتنوالی دئ او ښېله دغه په هیڅ شي د برم خاوندان کېدلای نه سي.پښتانه تر هغو چي پښتو او پښتنواله ورسره وي ژوندي به وي، ښېله دغه

مري، او محو کيږي. تر هغه وخته چي   د مليت غرور او د پښتنوالی ښاغلتيا زموږ په وينه کښي وي، ژوندي به يو، او بريالي به يو. که د پښتنوالي دودونه او د پښتو لار زموږ څخه ورکه سوه، دا په ټينګه ومنئ چي بيا به د پښتون نوم هم نه واورېدل سي، پښتون خو په لوی سرکښي نسبت و نورو ته کوچنی ملت دئ، او بلهای اولس هم نه ګڼل کيږي، هغه لوازم او اسبابونه چي نور ملتونه ئې بريالي کړي دي له دوي څخه نه وه. او نسته، مګر پښتنو سره د دغه لا هم په مقابل کښي د تاريخي فاتحينو د دنيا خپل ځان او خپلواکي فقط پخپله پښتنواله ساتلې او ځان يې نه دئ مريی کړئ.

اسکندر له يونانه تر هندوستانه مځکه ووهله مګر د پښتنو د مليت ميني د ده ټوله برم او جبروت هيڅ ونه باله، د پښتنو تاريخي فتوحات په هند او ايران کښي ټوله اثر د پښتنوالي وو، که پښتانه نن په تاريخ کښي څه افتخارات لري، دا ټوله د پښتنوالي برکت وو.

په هر اندازه چي د مليت او پښتنوالي جذبات او عنعنات په موږ کښي تينګ وه، هغومره لوړ او نوميالي وو، بيا چي هر څومره دغه ښېګړي او ملي مزايا او مفاخر راڅخه تللي دي، هغومره کښته سوي يو. لنډې دا چي د پښتنو د لوړتيا او کښته والي او ارتقا او انحطاط مقياس او معيار دغه "پښتنوالئ" دئ وبس.

د اوسني عصر ځلمي که غواړي چي ځانونه له سيالانو سره سم کړي يا په دنيا کښي د برم او عزت ژواك وکي، ښايي چي پښتنواله له لاسه ور نه کي، او د خپل مليت عنعنات تازه کي، او دا ملي ناموس وساتي، د کوچنو په دماغ کښي لا له کوچنيوالي د پښتنوالي احساسات وکري، او دا جذبات پکښي ژوندي کوي. ځني د پښتنوالي ورك سوي مزايا بيرته ومومي، او په آينده کښي زيار وکاږي چي پښتنواله پخپل حقيقي مصداق سره منځ ته راسي، او ملي ښېګړي او نواميس له ورکېدلو څخه خوندي سي[1].

(۱) طلوع افغان، ۱۳۱٦ لمريز کال، ۳ يمه ګڼه، لومړی مخ.